Pashto




# د کوویډ-19 د انټیجن بېړني معایناتو د استعمال لارښوونې


## Step 1: Prepare Material

## 1 ګام: مواد چمتو کړئ

تاسو ممکن په معایناتي بسته کې د معایناتي موادو 1 سیټ یا د معایناتي موادو 2 سیټ ولرئ. مهرباني وکړئ د ترلاسه شوي ځانګړي سیټ پر اساس په سم ډول لاندې ګامونه تعقیب کړئ.

### د معایناتو لومړی برخه:
Test Set 1:

بسته خلاصه کړئ، د کوویډ-19 معایناتي کارټ له کڅوړې څخه را واخلئ، خالي پیپ، مهر شوی محلول، او د معایناتو خاشه را وباسئ. کله چې تاسو د معایناتو ترسره کولو ته چمتو شئ، د کوویډ - 19 د معایناتي کارټ څخه پاکټ خلاص کړئ.




1 COVID-19 Test Card in Pouch

1 Pre Filled Tube

1 Swab

### د معایناتي موادو 2 مجموعه:
Test Set 2:

کڅوړه خلاصه کړئ، په کڅوړه کې د کوویډ-19 ټیسټ کارټ را واخلئ، هغه پیپ چې لا له وړاندې له استخراجي محلول څخه ډک شوی وي راوکاږئ. کله چې تاسو د معایناتو ترسره کولو ته چمتو شئ، د کوویډ - 19 د معایناتي کارټ څخه پاکټ خلاص کړئ.



1 COVID-19 Test Card in Pouch

1 Empty Tube and 1 Sealed Solution

1 Swab

## Step 2: Collect Sample

## 2 ګام: نمونه را ټوله کړئ






A. د معایناتو خاشه له دې کڅوړې څخه لیرې کړئ، دا په یاد لرئ چې د معایناتو خاشې سر ته لاس مه ور وړئ. مهرباني وکړئ د معایناتي خاشې کڅوړه درسره وساتئ چې وروسته مو په کارېږي.




B. په نرمۍ سره د معایناتي خاشې ټوله جاذبه برخه (معمولا له ½ څخه تر ¾ انچ پورې) خپلې پوزې ته دننه کړئ.




C. لږ تر لږه 5 ځلې یې د پوزې پر دیوال په کراره کراره په دایروي شکل سره وڅرخوئ . د نمونې راټولولو لپاره لږترلږه 15 ثانیې وخت ونیسئ او ځان په دې ډاډه کړئ چې د معایناتو په خاشه کې مو د پوزې اوبه راټولې شوي دي. د معایناتو له همدې خاشې څخه په استفاده د پوزې له بلې برخې څخه د نمونې راټولولو لپاره همدا کړنلاره تکرار کړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې د پوزې دواړې سږمې د معایناتو په همدې یوه خاشه باندې برس کړئ.

## Step 3: Process Sample


## الخطوة الثالثة: باشر بالعينة


A. پیپ په عمودي ډول پر مېز کښېږدئ او د پیپ خلاصولو لپاره لوی نارنجي کیپ تاو کړئ.


B. د معایناتو خاشه پیپ ته دننه کړئ، د پیپ لاندنۍ برخه د معایناتي خاشې په واسطه وموښئ او لږترلږه 15 ځله یې سره وښوروئ.

C. د پیپ دواړه اړخونه کښېکاږئ تر څو د معایناتو له خاشې څخه د امکان ترحده ډېر مایع راووځي او بیا خاشه لیرې کړئ.


D. نارنجي لوی کیپ بیرته وپیچئ، د معایناتو خاشه بیرته کڅوړه کې واچوئ. معایناتي خاشه او بسته په خوندي ډول تصفیه کړئ.



D


C



B


A




## ۴ ګام: نمونه اضافه کړئ

Step 4: Add Sample

د پیپ د کوچني سپین سرپوښ د خلاصولو لپاره هغه تاو کړئ. د نمونې 3 څاڅکي د کوویډ-19 معایناتي کارټ د نمونې څوکې ته اضافه کړئ. کوچنی سپین سرپوښ بېرته وتړئ.

## ۵ ګام: 15 دقیقې انتظار وکړئ

Step 5: Wait 15 minutes


وروسته له دې چې د معایناتو لپاره نمونه د سیمپل څوکې ته ورسېږي، سملاسي په اپلیکېشن کې د "Start Timer" تڼۍ په کلیک کولو سره وخت قید کړئ. پایله به په 15 دقیقو کې چمتو شي.




## ۶ ګام: پایله وګورئ

Step 6: Read Results

پایلې باید د 30 دقیقو څخه وروسته ونه کتل شي (پایله به 2X غټ سایز کې و ښودل شي).





## ۷ ګام: د معایناتو د پایلې توضیحات

Step 7: Test Result Explanation

**مثبته پایله:**

Positive Result




په مثبته پایله کې باید پر C (روښانه ارغواني) کرښه اوT باندې (توره ارغواني ) دواړه کرښې وي. مثبته پایله په دې معنی ده چې د کوویډ-19 وایرس کشف شوی او یاد شخص د کوویډ-19 معاینات مثبت دي.





هغه کسان چې معاینات یې مثبت وي باید ځان جلا کړي او د خپل ډاکټر یا روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکي څخه د پاملرنې او روغتیایي تعقیب غوښتنه وکړي څکه کېدای شي د اضافه معایناتو او د عامې روغتیا د راپور ورکولو ته اړتیا پیدا شي.

---

**منفي پایله:**

Negative Result

د منفي پایلې په صورت کې به یوازې پر C (روښانه ارغواني) کرښه وي.




منفي پایله په دې معنی ده چې د کوویډ-19 وایرس انټیجنونه نه دي موندل شوي او داسې ګومان دی چې دا شخص کوویډ-19 نه لري.

- مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې په منفي پایله کې د کوویډ-19 احتمال نه ردېږي
- د معایناتو د منفي پایلې په صورت کې: ټول ټولنیز واټن تعقیب کړئ، سپارښتنې عملي کړئ او محافظتي تدابیر ونیسئ. که په وایرس د ککړېدو شک دوام ومومي او/ یا ستاسو لومړني معاینات منفي وي، د 1-2 ورځو وروسته بیا معاینات وکړئ او د خپل روغتیایي پاملرنې د چمتو کوونکي یا د کوویډ-19 د سیمه ایز مرکز سره مشوره وکړئ.

## ۸ ګام: د معایناتو کېټ لیرې کړئ

Step 8: Dispose of Test Kit

د معایناتو تر بشپړیدو وروسته، د کېټ ټول مواد د خځلو په سطلې واچوئ

SCAN ME




See more at
AnchoragePLNs.org

Translated by Alaska CSS Refugee Assistance & Immigration Services
Formatted by Alaska Literacy Program

This project was partially supported by a grant awarded by the Municipality of Anchorage, Anchorage Health Department. The opinions, findings, conclusions or recommendations expressed in this publication are those of the author and do not necessarily reflect the views of the Municipality of Anchorage, Anchorage Health Department.